# په هرات کې
# د حجاب شرط
# پلي کول

د بشري حقونو لپاره د ملګرو
ملتونو د عالي کمېشنر دفتر

په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

## پېژندنه

د ۲۰۲۵ کال د مې میاشتې راپدېخوا، د ښځو حجاب[1] په هرات ښار کې د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو لپاره د پام وړ موضوع ګرځېدلې ده. تېر کال په هرات ښار کې، په مختلفو مودو کې ښځو ته د اسلامي حجاب د لزوم په توګه د لوي څادر[2] – او کله ناکله د برقع[3] - د اغوستلو مخ په زیاتېدو تطبیق شتون درلود.

## د حجاب شرط

*برحاله* چارواکو د حجاب شرایط په لیکلي بڼه ترتیب کړل:

- د ۲۰۲۲ کال د مې په ۷، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن وزارت د حجاب لارښوونه خپره کړه، چې له مخې یې ښځې اړې شوې چې له کوره بهر خپل مخونه او بدنونه په بشپړه توګه پټ کړي.[4] د نه رعایت په صورت کې دغې لارښوونې د ښځو نارینه خپلوانو لپاره هم سزاګانې وټاکلې.
- د حجاب لارښوونه د امربالمعروف او نهي عن المنکر په قانون کې، چې د ۲۰۲۴ کال د آګست په ۲۱مه خپور شو، تصویب شوه او داسې صراحت لري چې د مخ په ګډون، ښځه باید خپل ټول بدن د غیر محرم نارینه وو او غیر مسلمو "فاسدو" ښځو څخه پټ کړي.[5]

## په هرات ښار کې د ۲۰۲۶ کال د جون میاشتې څخه مخکې د حجاب شرط پلي کېدل

د ۲۰۲۵ کال د مې له میاشتې راپدېخوا، په هرات ښار کې د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د محتسبینو لخوا د ښځو د حجاب د سختې څارنې او تطبیق لپاره څو دورې ترسره شوې:

- د ۲۰۲۵ کال د مې په ۱۲-۲۶، *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو چیک پاینټونه واچول او ګزمې یې ترسره کړې ترڅو په هرات ښار کې د ښځو حجاب وڅاري. *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو لسګونه ښځې او ځینې نجونې څکه بندیانې کړې چې لوي څادرونه یې نه و اغوستي. په ډېرو مواردو کې، ښځې او نجونې په چیک پاینټونو کې تر هغه مهال بندیانې شوې وې چې خپلوانو یې ورته لوي څادرونه راوړل. د هرات ښار د جبرئیل سیمه، چې اکثرا شیعه هزاره ګان پکې اوسیږي، د تطبیق د تمرکز سیمه وه. د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې اړه مالومات نلري چې ګوندې *برحاله* چارواکو لخوا دې د لوي څادر شرط په اړه د مخه اعلان شوی وي.
- د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر په ۱۵-۱۹، *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو په هرات ښار کې – په ځانګړې ډول په جبرئیل سیمه کې - بیا چیک پاینټونه واچول او ښځو ته یې امر وکړ چې لوي څادرونه واغوندي. ځینې ښځې او نجونې تر هغو پورې بندیانې شوې چې خپلوانو یې ورته لوي څادرونه راوړل.
- د ۲۰۲۵ کال د نومبر په ۴، په هرات ښار کې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارکوونکو یو شفاهي لارښوونه صحي کلینیکونو، پلورنځیو او هټیوالو، د واده سالونونو او برحاله ادارو ته خپره کړه تر څو د برقع پرته ښځو ته د ننوتلو اجازه ورنکړي. بې پولې ډاکټرانو راپور ورکړی چې دې شرط په اعلانولو سره، په دوه ورځو کې د هرات ولایتي روغتون ته د ناروغانو په شمیر کې ۲۸ سلنه کموالی راغلی دی.[6] د نومبر په ۹، *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند په عام ډول هغه راپورونه رد کړل چې ښځو ته په هرات کې امر شوې تر څو برقع واغوندي، هغه وویل "یو ډول کالیو ته د ښځو محدود کولو راپورنه په بشپړ ډول ناسم دي".[7] په هرات ښار کې ښځو ته د برقع اغوستلو شرط وروسته کرار شو او *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ښځې اړ کولې چې په عام ځایونو کې لوي څادرونه

[1] حجاب یوه عمومي اصطلاح ده چې د 'پوښلو'یا 'پټولو'مانا لري او همدارنګه په عام ډول هغه ټکري ته ویل کیږي چې چې سر او ویښتان پټوي خو مخ نه پټوي. په تاریخي لحاظ، د ځايي قوانینو او رواجونو له مخې مختلف ډولونه لري.
[2] هغه لوي لباس ته وايي چې سر څخه نیولې تر ښنګرو پورې ټول بدن پټوي، او مخ نه پټوي.
[3] هغه لوي لباس دی چې د مخ په ګډون، سر او ټول بدن پټوي، د سترګو سره یوه جالۍ لري ترڅو اغوستونکې وکولای شي څه ووینې.
[4] *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ایکس پاڼه (https://mopvpe.gov.af/ps/%DA%A9%DA%93%D9%86%D9%84%D8%A7%D8%B1%D9%87)؛ د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ایکس پاڼه (https://x.com/MOPVPE/status/1522882293718818816?s=20&t=sshqCD9cwGCRkJbt8HL3LQ)؛ (https://x.com/MOPVPE/status/1524037222399369217?t=oMIxjpN_O-O-WOvYA0pBxA&s=19).
[5] د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون د انفاذ په اړه د امیرالمؤمنین فرمان (د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون)، مسلسل شمیره ۱۴۵۲، په ۳/۱/۱۴۴۶ هجري کال، ۱۹/۴/۱۴۰۳ لمریز کال (۲۰۲۴ کال د جولای په ۹) توشیح شوی دی.
[6] په افغانستان کې د بې پولې ډاکټرانو د ایکس پاڼه (https://x.com/MSF_Afghanistan/status/1987410138454470901?s=20).
[7] د ملي راډیو تلویزیون پښتو څانګې سره د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ویاند مرکه: https://x.com/rtapashto/status/1987601584432242874.

واغوندي.

د سخت تطبیق د دورو ورهاخوا، په هرات ښار کې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست کارکوونکو د ښځو د حجاب څخه خارتې ته دوام ورکړ او هغوی ته یې امر کوو چې د کور څخه بهر لوي څادر واغوندي. داسې موارد مستند شوي چې د لوي څادر نه پرته ښځې د عامه ترانسپورت او کلینیکونو، روغتونونو، *برحاله* حکومتي دفترونو او بازارونو څخه منع شوي دي.

## د ۲۰۲۶ کال د جون په میاشت کې د حجاب د پلي کولو کمپاین

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۴، د هرات *برحاله* والي، مولوي نور احمد اسلام جار او *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست چارواکو د ځايي خلکو له استازو سره غونډه وکړه او دوی ته یې داسې لارښوونه وکړه چې ښځې باید په هرات[8] کې له کوره بهر د لوي څادر په اغوستلو سره د حجاب اړوند لارښوونه رعایت کړي.

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۵، په هرات ښار کې د جمعې د لمانځه پر مهال د ښار په ټولو جوماتونو کې دا سې پیغام خپور شو چې ښځې باید لوي څادر واغوندي. همدارنګه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست یوه لیکلې لارښوونه هم خپره کړه او پکې ویل شوي وو چې *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر محتسبین به هغه ښځې چې اسلامي حجاب نه رعایتوي، ونیسي او زندان ته به یې ولېږدوي.

د ۲۰۲۶ کال د جون د ۶ او ۸ ترمنځ، د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د محتسبینو ډلو چې د راپورونو له مخې د *برحاله* پولیسو ښځینه غړې هم ورسره وې، لږ تر لږه ۳۰ ښځې او نجونې چې لوي څادر یې نه وو اغوستي، ونیولې او ولایتي زندان ته یې ولېږدولې.[9] وروسته له هغې چې یادو ښځو د لوي څادر اغوستو تضمین ورکړ، دوی د جون په ۸ له بند څخه خوشې شوې.

عیني شاهدانو[10] د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې دوی د جون د ۶ او ۸ تر منځ په هرات ښار کې د ښځو د نیولو شاهدان وو:

- یو شخص د دې عیني شاهد وو چې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو یوه ښځه ونیوله. د هغې نارینه خپلوان چې ورسره وو، له محتسبینو سره لفظي شخړه وکړه او هغه په فزیکي نښته واوښته. وروسته د *برحاله* کورنیو چارو وزارت د چارواکو یوه ډله سیمې ته ورسېده، مداخله یې وکړه او د ښځې ترڅنګ یې د هغې نارینه خپلوان هم ونیول.
- یوې ښځې د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبین لیدلې وو چې له یو شمېر ښځو سره، د هغې په باور ښځینه پولیسې وې، په ګډه په کوڅو کې ګرځېدل. هغوی شاوخوا ۱۰ هغه ښځې ونیولې چې لوي څادرونه یې نه وو اغوستي او پخپل یو موټر کې یې کېنولې. دغې ښځې وویل: "ما هم لوي څادر نه و اغوستی خو له نیکه مرغه زه په یوه وړه کوڅه کې پټه شوم او د محتسبینو له نظره پټه پاتې شوم، که نه نو زه به هم نیول شوې وای".
- یوه ښځه د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو له لورې د یوې بلې ښځې او د هغې د لور د نیول کېدو شاهده وه. د هغې په وینا چې دغه ښځې لوي څادر اغوستی و خو لور یې نه و اغوستی. سره له دې، مور یې نه غوښتل چې خپله لور یوازې پرېږدي نو له همدې امله دواړه ونیول شوې.

## د حجاب د پلي کولو پر وړاندې لاریونونه

د ۲۰۲۶ کال د جون د ۹ په سهار، د هرات ښار د جبرئیل په سیمه کې لسګونه ښځې او سړي راټول شوي وو تر څو د حجاب د لارښوونو په تړاو د ښځو د نیولو او توقیف پر وړاندې سوله ییز لاریون وکړي.

لاریون هغه مهال په تاوتریخوالي واوښت کله چې *برحاله* امنیتي ځواکونو په ملکي جامو کې د لاریون کوونکو په وهلو او ډزو کولو پیل وکړ. *برحاله* امنیتي ځواکونو یو هلک په ډزو واژه، لاریون کوونکي یې ووهل او ډزې یې پرې وکړې چې لږ تر لږه څلور تنه پکې ټپیان شول،[11] او لږترلږه ۱۷ لاریون کوونکي یې ونیول.

یوې ښځې چې په لاریون کې یې ګډون کړی وو او له نیول کېدو څخه په تېښته بریالۍ شوې وه، وویل: «امنیتي ځواکونو پر خلکو ډزې پیل کړې او هغوی یې په لرګیو ووهل. د دغه تاوتریخوالي په پایله کې یو ماشوم په ډزو ووژل شو. امنیتي ځواکونو یوه ښځه د لاریون

[8] له دې څخه موخه تر ډېره د هرات ښار دی، نه په عمومي ډول د هرات ولایت، ځکه تر اوسه د حجاب شرط د پلي کولو اقدامات په عمده ډول په هرات ښار کې متمرکز وو.
[9] د یوناما (X) پاڼه https://x.com/UNAMAnews/status/2063591460583125080?s=20.
[10] د خوندیتوب د ملاحظاتو له امله، د ځایونو نومونه او د هویت پېژندنې اړوند مالومات پټ ساتل شوي .
[11] یوناما، *په هرات-افغانستان کې د ښځو د نیولو او د اعتراض کوونکو پر وړاندې د زیاتې قوې د کارولو په اړه د یوناما اندېښنه*، ۱۰ جون ۲۰۲۶، د لاسرسي وړ: https://unama.unmissions.org/en/press-releases/unama-alarmed-by-arrests-of-women-in-herat-afghanistan-and-excessive-use-of.

د ثبتولو په تور ونیوله... تر ماښامه پورې امنیتي ځواکونه زموږ د کورونو ترڅنګ ولاړ وو او هیچا ته یې اجازه نه ورکوله چې له خپلو کورونو ووځي».

یو سړي چې د دغو لاریونونو د ځای سره نږدې اوسېده، د یوناما د بشري حقوقو څانګې ته وویل چې د ډېرو غږونه یې اوریدلی او دا یې هم لیدلي چې د *برحاله* امنیتي ځواکونو یوې ډلې یو سړی چې د خپل کور پر لور روان وو په لرګیو وواهه.

## د حجاب په تړاو د نیونو او لاریونونو پایلې

د لاریونونو څخه وروسته ورځو کې، د *برحاله* استخباراتو لوی ریاست کارکوونکو خلک په تصادفي ډول ودرول او د جون د ۹ د لاریونونو اړوند پیغامونو او یا هم ویډیوګانو د موندلو لپاره یې د هغوی ګرځنده تلیفونونه پلټل. هغه کسان چې د لاریونونو اړوند موضوعات یې په ګرځنده تلیفونونو کې موندل کېدل، توقیف او پوښتنې ترې کیدلې. د هرات ښار په کوڅو کې د ښځو په شمېر کې د پام وړ کمښت ولیدل شو، او د راپورونو له مخې، د دې کمښت لامل دا و چې ښځو وېره لرله که له خپلو کورونو څخه ووځي، ښايي ونیول شي.

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۱۱، د هرات *برحاله* والي له طلوع نیوز سره په یوه مرکه کې په هرات کې د حجاب په اړه خبرې وکړې.[۱۲] هغه وویل: په هرات کې «د حجاب د رعایت کچه د ځینو عواملو له امله ورځ تر بلې راټیټېږي» او دوی اړ شوي څو هغو ښځو ته لارښوونه وکړي چې «ذهني او شرعي ناروغۍ» لري. هغه دا «ډنډورې» رد کړې چې ګواکې ښځې د نارینه وو له خوا نیول شوي دي، او وېې ویل چې په هرات کې د شرعي حجاب د رعایت د څارنې لپاره د «باتجربه خویندو یوه ډله ګومارل شوې وه، چې په نظامي برخه او نیونو کې تجربه لري»، له دوی سره یو ساتونکی یا موټرچلوونکی هم مل وو، چې د دغو ښځو له ډلې د یوې محرم و.

د ۲۰۲۶ کال د جون په ۱۵، طلوع نیوز راپور ورکړ چې د هرات *برحاله* والي له ځايي اوسېدونکو او دیني عالمانو سره په یوه غونډه کې وویل: «د هرات د ولایتي اداري دروازې د هر هغه چا پر مخ خلاصې دي چې د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، ښاروالۍ یا نورو امنیتي ادارو له چلند څخه شکایت ولري. هغوی کولای شي راشي او خپلې اندېښنې له موږ سره شریکې کړي.»[13]

د جون میاشتې له نیمايي راپدیخوا، په هرات ښار کې د حجاب د شرط په تړاو د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د محتسبینو له خوا ښځو او نجونو ته د اخطار ورکولو او/یاد محتسبینو لخوا د هغوی د توقیف پېښې کمې شوې دي. ښايي د دې کمښت لامل دا وي چې د *برحاله* چارواکو مقررات تر پخوا ډېر رعایت کېږي.

د راپورونو له مخې، په هرات ښار کې ښځو د حجاب شرط په اړه بېلابېلې لارښوونې ترلاسه کړې دي، چې د لباس په اړه د روان ابهام لامل ګرځیدلی. د بېلګې په توګه، یوې ښځې چې د هرات ولایت *برحاله* د پوهنې ریاست ته تللې وه، ورته ویل شوي وو چې تر هغو ودانۍ ته د ننوتلو اجازه نه لري تر څو برقع یې نه وي اغوستې. یوې بلې ښځې چې د هرات ولایت *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست ته تللې وه، ورته ویل شوي وو چې د ننوتلو لپاره باید لوی څادر او ماسک – خو نه برقع - واغوندي.

[۱۲] د طلوع نیوز (X) پاڼه (https://x.com/TOLOnews/status/2065133622722773158).
[13] طلوع نیوز، *د هرات دیني عالمانو له اعتراضونو وروسته له خلکو د ارامۍ او زغم غوښتنه وکړه*، ۱۵ جون ۲۰۲۶، د لاسرسي وړ: https://tolonews.com/afghanistan-199640.

## ضمیمه: د افغانستان د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت لخوا وړاندې شوي نظریات

په هرات ولایت کې هر هغه حجاب چې د اسلامي شریعت له احکامو سره سم وي، د منلو وړ ګڼل کیږي. دا اصل د هیواد په نورو ولایتونو کې هم د نافذه اصولو په چوکاټ کې عملي کیږي.

د هغو ادعاوو په اړه چې ګواکې ښځې د حجاب د ډول له امله له عامه ترانسپورټ څخه بښکته شوي یا له عامه خدماتو محرومې شوې دي، باید وویل شي چې په دې اړه هیڅ رسمي هدایت یا پالیسي نه ده صادره شوې، او دا ډول ادعاوې د رسمي تګلارې استازیتوب نه کوي.

[د هغه لیکلي لارښود په اړه چې هرات ولایت کې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست لخوا، د ۲۰۲۶ کال د جون په ۵ خپور شو]: یاد سند د هرات ولایت د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اوریدلو ریاست له لورې صادر شوی رسمي هدایت نه دی؛ بلکې د حجاب اړوند موضوع په اړه یو علمي او ارشادي متن دی او د رسمي اداري سند حیثیت نه لري.

د هرات ولایت د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو ریاست له لورې د ښځو د توقیف یا زنداني ساتلو ادعاوې ردوي او څرګندوي چې هیڅ ښځه د دغه ریاست له لورې نه ده توقیف شوې.